انجنیر سید عبدالقادر


14. 6. 2009

## دامریکا دنوي ولس مشر د تغییر یا» چینج » دسیاست اعلانو ل اودافغان ولس نور تکول

بازار گرم دي د لـوبو نـن وجـدان پکښي خرڅيـږ ي
داخونه لوي وحشت دي نـن انسان پکښــي خرڅيـږي
دالـــوبــي دغـلیـم دي وافـغـان تـــي لومــي ایـښـــي
ژر پاڅي ددي خوبه ، کور دافغان پکښيي خرڅيږي

په دي ليکنـه کـي بـه پـه لنده توګـه پـه افغانستان کـي د يرغلګر ځواک پر نظـامي او سياسـي هلو ځلو او ددوي پر غولونکو خبرو او کړونو باندي به لږ څه مکث وکړم :

۱ــ نظامي هلي ځلي :

دايوه معلومه خبره او پوره حقيقت دي ، چه پـه نړي کښي ټول اجتمـاعي ، سياسـي سـازمانونه ، دولتـي حاکميتونـه او بالاخره جهاني ابر قدرتونه دخپلو خلګو او ګروپي ګټو له پاره ځان ته معلومي او ټاکلي ستراتيژ يګاني لري ۰
چه ودي سترا تيژيوته د رسيدو له پاره په مختليفو وختونو کښي د خپل مخ څخه دستونځو دليري کولو لـه پـاره دمختليفو تاکتيکونو، او سياستونو څخه دعامو خلګودتيرولو دپاره کاراخلي ۰

څکه نو ددي واقعيت په رڼا کي امپرياليستي او استعماري حاکميتونه او ځواکونه په جهان او په ځانګري توګه زموږ په ګران وطن افغانستان کښي ددي اوو کالو ديرغل په درشل کښي دخپلو بشري او اقتصادي جنايـاتو دپټولو پـه مقصد زموږ دولس دتير وتلو له پاره دمختليفو تاکتيکونو او سياستونو څخه کار اخستي او اخلي يي ۰
ولي دخوښي ځاي دادي چه دي زوريدلي ملت ددوي اهداف درک کړي ، او ددوي په چل او ټګماريو باندي نـور نـه خطا وزي ۰ او په خپل وطن کښي به دخپلو نيکونو او اجدادو په څير هيڅ يو يرغل تـه سر تيټ نکړي ۰ څکه ددي ولس دادافغاني غيرته ډکه ځانګړ تيا نـه يوازي سره انګليس او روسـانو پـوره درک کـړي، بلکه دجهـان نـورو لويو قدرتونو هم دا واقعيت درک کـړي دي ۰ چـه دامريکا نـوي مشر اوباما هم پـه يـوه مصاحبه کښي کـوم وخـت چـه دافغانستان او پاکستان په وړاندي نوي ستراتيژي جوړول ، وهغه کميسيون ته يي داسي خطاب کړي وو ۰

چه دافغانستان په وړاندي دنوي ستراتيژي دجوړولو پر وخت بايد دافغانانو تاريخ چه دهر اشغال په مقابل کي ډغري وهلي دي ، په نظر کي ونيول سي ٠

بايد وويل سي چه دامريکا تر انتخاباتو ځو هفتي مخکي يو تعداد افغاني سياسي کارپوهانو او ډيرو روشنفکرانو داسي فکر کاوه چه په امريکا کښي دډموکراټانو او په ځانګړي توګه داوباما کاميابي به افغانستان ته دصلح دراوستلو او دجنګ دختميدو شروع وي ٠

ولي بر عکس اوباما د تغيير دسياست داعلان څخه وروسته وافغانستان ته دبنه امنيت دراوستلو ترنامه لاندي د ـــ ۲۱۰۰۰ ـــ نوو عسکرو ليږل امضأ کړل ٠ چه ددي جملي څخه ۳۵۰۰ عسکر دمی دمياشتي په آخره کښي کندهار کښي ځاي پر ځاي سوي ، او ۳۰۰۰ به نور هم ورسره يو ځاي سي ، او دجون دمياشتي په آخرکښي به دامريکايي عسکرو تعداد ـــ ۷۰۰۰ ـــ ته ورسيږي ٠په داسي حال کي چه فعلا دکندهار په ولايت کښي ۲۸۰۰ ـــ کاناډايي عسکر دطالبانو دسخت مقاومت سره مخامخ دي ٠

او هم په راتلونکولسو ورځوکښي به دهلمند ولايت ته د۱۰۵۰۰ ـــ امريکايي نوو عسکرو ليږل په داسي وخت کي تر سره سي چه هلته ۸۰۰۰ ـــ برتانوي عسکر دخلګو دکلک مقاومت سره مخامخ په جګړه کي دي ٠

او هم داسي اوريدل کيږي چه په راتلونکي نوي هفته کښي به ـــ ۱۲۰۰۰ ـــ نوي خارجي عسکر په افغانستان کي ځاي پر ځاي ، اودځينو خبرونو څخه معلوميږي ، چه دهلمند دولايت دګرم سير په ولسوالي کښي به يوه نوي نظامي اډه هم جوړه کړي ٠ داسيمه و دوي ته په ستراتيژيکي لحاظ څکه د اهميت وړده ٠ چه پاکستان او ايران ته نيژدي پرته سيمه ده ٠ دانوي نظامي اډه په داسي وخت کښي امريکا تر خپل لاس لاندي نيولي ده ، چه په اوس مهال کښي امريکا او ناټو دواړه په افغانستان کښی ـــ ۲۸ ـــ لوي نظامي اډي لري ٠ چه دهغي جملي څخه ۱۳يواځي هوايي نظامي اډي دي ،چه ددي جملي څخه بيا دوي هوايي اډي ډيري زو روري دي ٠ چه ديوي خوا کولايسي په ډيره اساني اسيا، اروپا ، روسيه ، چين ، ايران ، او هند کنترول کړي ٠ اوله بله پلوه کولايسي چه دنفتو اوتيلوهغه زيرمي چه د کسپين اودپارس په خليج کي دي په خپل کنترول کي وساتي ٠ اوس نودلته داسي سوالونه را پيداکيږي:

چه داپورتنی نظامي هلي ، ځلي امريکا دڅه دپاره کوي ؟ او ددوي ددی ډيري پانګي اچوني څخه چه په نظامي او سياسي اړخونو کيي پکار اچوي ، هدف يوائې دتروريزم او مخدره موادو دقاچاق پر ضد مبارزه ده ، او که نور پټ خپل ستراتيژيکي اهداف مخ ته وړي؟ په داسي حال کښي چه ددوي دا نظامي هلو ځلونه يوازي دمنطقي هيوادونه بلکه دجهان لوي نظامي او اقتصادي قدرتونه دسختو تشويشونو سره مخامخ کړي دي ٠ څکه نو ددوي نظامي اډي په مرکزي اسيا کښي يو په بل پسي دترل کيدو پر حال دي ٠ کرچه د۲ـــ۶ـــ ۲۰۰۹ ـــ تاريخ باندي دقزاقستان په مرکز کښي دافغانستان او قرغيزستان دسفير انو په ګډ ملاقات کښي دافغانستان دجمهور ريس وړانديز دقرغيزستان جمهو ريس باقييف ته د يو په يو ملا قات په هکله دافغانستان دسفير له خواه څخه دقرغيزستان سفير ته ورکول سوو٠ اوداسي معلومه سوله چه ددي ملاقات اصلي هدف په قرغيزستان کښي دامريکا دنظامي اډي دبيرته پاته کيدوله پاره وو ، ولي وځنګه ته يي په افغانستان کښي دبيا جوړوني له پاره دهمکاري غوښتنه هم ځيني سويو ه ٠

په داسي حال کښي چه اوباما يوه هفته مخکي و عربي نړي ته دخپل رسمی سفر په وخت کښی دمصر دجمهوريت دقاهري د الا اظهر په پوهنتون کښي په يوه مفصله بيانيه کښي ادا په ښکاره وويل چه ، دافغانستان او پاکستان د مسلي حل دنظامی لاري څخه شتون نه لري ٠

اوس نو که وګورو دامريکا دمشر تابه ځرګندوني ،اوديرغلګر ځواک عملي قدمونه په څونه متقابل جهت کښي قرار لري ٠څکه نو داسي سوال پيدا کيږي چه ددوي ځرګندوني او عمل ولي يو ډول نه دي ؟

ددي مهمي پوښتني دتوضيح او جواب له پاره به زه څه نا څه په راتلونکي ليکنه کي د « ايا امريکايي او افغاني واکمنان دافغان ولس په وړاندي رښتيا وايي » تر عنوان لاندي په ځينو افغاني ويب پاڼو کي ونشر ته وسپارم ٠

٢ ـــ سياسي هلي ځلي :

که په لنډ ډول سره ووايو، چه دامريکا تر رهبري لاندي يرغلګرو په افغانستان کښي دخپلي خوښي سره سم سياسي حاکميت دخپلو غربي تيکنوکراتانو او جنګ سالارانو څخه جوړکړي ٠ او ددي حاکميت اساسي قانون يي هم دخپلو ګټو تر شعاع لاندي دملت دربينتيني ارادي څخه ليري په اصطلاح په لويه جرګه باندي تصويب او پر دي زوريدلي ملت باندي يي په زور وتپي ٠او د مملکت حاکميت په ښکاره ډول د يوي خارجي او داخلي مافيا په لاس کښيوت ٠ چه داوو کالو په تيريدو سره د دي لاس پوخوتر حاکميت لاندي داسي بشري جنايات تر سره سول ،چه په نتيجه کښي په لس هاوو زرو افغانانو ـــ کوچنيانو ، ښځو ، زړو ، ځوانانو ،) خپل ژوند دلاسه ورکړي او په زرهاوو کورونه او کلي يي په کنډ والوباندي تبديل سوي دي ٠ ددي حاکميت کړونو نه يوازي داملت دفقر او دبي امنيو و ګواښونو ته ور پوري واهه ، بلکه په اوس مهال کي يي ټوله منطقه د بي امنيو ګواښونو سره يي مخامخ کړي ده ٠

دافغانستان دغه لاس پوخي سياسي حاکميت دخلګو په وړاندي دامريکا او ناټو په مستقيمه نظامي حمايه داسي اقتصادي جنايات هم تر سره کړل ، چه دافغانستان تاريخ يي په خپلو پاڼو کي نه لري ٠ هغه داچه دمنفورآزاد بازار او خصوصي سکتو ر دتقوي تر نامه لاندي يي دملت دغيري منقولي شتمني لويه برخه يي خپل تر منځ دملت دارادي خلاف يي په ډيره سخاوتمندانه ډول تقسيم کړل ٠ چه په نتيجه کښي په زرهاووانجنيرانو،معاون انجنيرانو او ماهرو کارګرانو خپل کارونه دلاسه ورکړل ، او سم دلاسه يي دفقر ودروازي ته و درول ٠ ولي دملت په دي شتمنيوباندي دکرزي تررپري لاندي يو څود غربي استخباراتي کړيو سره موښتي تيکنوکراتانو او لويو جنګ سالارانو په داخل او خارج کښي لوي قصرونه جوړ، او په غربي بانکونو کښي دډالرو د لويو زخيرو خاوندان سول ٠ ولي ددوي ددي جناياتو قرباني هغه غريب انسانان سول ، چه دوچي ډوډي اوژمنيو کاليو دنه درلودلو له کبله هر کال په ساړه ژمي کي په زرهاوو ماشومان او لويان خپل ژوند له لاسه ورکوي ٠

په نتيجه کښي هغه خلګو هم چه ددوي په وعدويي په لومړيوورځو کښي فريب خوړلي وو ، اوس په دي واقعيت باندي پوره پوه سوي دي ، چه امريکا تر رهبري لاندي په اصطلاح جهاني ټولنه په افغانستان کښي هغه څه تر سره کوي ، چه خپله يي غواړي ،اوس افغان ولس دوي په وعدو او خبروباندی نور نه خطا وزي ٠ ځکه نو په نتيجه کښي دمقاومت هغه کوچني ليکي اوس دمملکت غربي ، جنوبي او شرقي سيمولويي برخي يي هم په خپل غير کښي نيولي دي ٠ او داسي معلوميږي چه د شمالي سيموخلګ هم ورځ په ورځ تر خپلو ملي او وطن پالني تر تاثيراتو لاندي راولي ٠ چه دخلګو دا پراخ ملي احساسات نن دامريکا تر رهبري لاندي دناټو زبر ځواک هم دسخت چلنج سره مخامخ کړي دي ٠ چه دناټو تاريخ داسي چلنج په خپل ياد کي نه لري ٠ ځکه داسي ورځ نسته چه دوي دي تلفات ونه لري ٠ ځکه نو دناټو دځواک حاکميتونه دخپلو ملتونو تر سختو انتقادونو لاندي راغلي ،او دناټو يو تعداد غړي نور زړه نه ښه کوي چه دخپلو خلګو دارادي خلاف دي نور عسکر و دي بي نتيجي جنګ ته وليږي ٠

دپورتنيو واقعيتونو او دامريکا دتغير دسياست په نظر کي نيولو سره سوال دا پيداکيږي چه ايا دامريکا نوي مشر تابه په رښتيا سره غواړي داد بوش داداري جوړ کړي تراژيدي سريال ته په افغانستان کي دپاي ټکي کښيږدي ؟

ددي سوال مثبت جواب ته مشکله ده چه ځوک دي اوږه ورکړي ۰ دا ځکه چه دتاکتیکونو او سیاستونو تغیردولسونو او ملتونو په وړاندي دچل او چم یوه طریقه ده ، چه غواړي ددي لارو څخه خپل ځانونه خپلو اهدافو ته نیژ دي او یا ورسوي ۰ ځکه نو افغان ولس داوباما په دي څلورو میاشتوکښي په افغا نستان کښي دجنګ میدان سوړ نه ، بلکه نور یي هم ګرم ولیدي ۰ اوددي نوو عسکرو په ورتګ سره به دافغاني مافیایي حاکمیت دوړاندویونوخلاف دجنګ میدان به نور هم ګرم ، او دجنګ دواړه طرفه به دسختوتلفاتو سره مخامخ ، او دافغان ولس کرکه او نفرت به دامریکا دنوي مشر تابه په مقابل کي دبوش په څیربه ډیر ه کړي ۰ تمت باالخیر ۰

اخځ :

فارسي رو ویب پاڼه :

تل افغان ویب پاڼه :

لر او بر ویب پاڼه :